# افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



لیـکنـه: امیرگران

۱۷ مارچ ۲۰۲۴


## د پاکستان غیرشفاف انتخابات او د سیاسی مشروعیت ننګونی

### دویـمـه بـرخـه

د مقالی په لومړی برخه کی په پاکستان کی د ۰۸ فبروری ، ۲۰۲۴ کال د پارلمانی انتخاباتو تقلب ، غیرشفافیت او د پوځ په دستور د انتخابات د کمیسیون لخوا لاس وهنو او د نوازشریف د مسلم لیګ د ګوند په ګټه د انتخاباتو نتایج بدلولو ته په لنډه توګه اشاره وشوه د مقالی په دغه برخه کی په انتخاباتو کی د درغلیو ، امنیتی پیچلی وضعیت ، اقتصادی ژور بحران ، د عدم اعتماد او له IMF یا د پیسو نړیوال صندوق څخه دزیات قرض اخیستلو په ستونزمنو شرایطو لیږ تم کیږو.

د امنیت ساتلو او تینګولو لپاره د پاکستان د ځمکنیو پوځونو لوی درستیز جنرال عاصم منیر د ۹ قول اردو قوماندانانو او د ستر درستیز د قرارګاه GHQ له اوه لسو ( ۱۷ ) افسرانو ( پرینسیپل ستاف افیسرز ) سره مخکی له انتخاباتو غونډه وکړه ، په غونډه کی په ټول پاکستان خصوصاً په بلوچستان او پښتونخوا کی دامنیت په ټینګولو او هم د انتخاباتو د اوږدی مودی په پایلو او د خپلو لاس پوڅو کاندیدانو په ګټه د نتایجو په بدلولو بحث او تبادل نظر وشو او هم موقت حکومت ته ئی د امنیت د تامینولو ډاډ ورکړ ، ولی د پوځی قطعاتو د شتون سره سره د بلوچستان په پشین ، ژوب ، قلعه سیف الله ، تربت او د پښتونخوا په دیره اسمعیل خان د درابن په سیمه کی د پولیسو په قرارګاه مرګونی حملی وشوی چی په لس ګونو امنیتی ځواکونو ته ئی مرګ ژوبله واړوله ، همدا ډول د انتخاباتو یوه ورځ مخکی د بلوچستان لبریشن ارمی ( BLA ) او بلوچستان سرمچار لخوا په بولان دره ، مچ ، پنجګور کی مرګونی حملی شوی چی د پاکستان پوځی پرسونل او امنیتی قواوو ته ئی تلفات واړول ، د یادولو ده چی BLA او بلوچستان سرمچار دا ځو لسیزی د بلوچستان د ازادی لپاره جنګیږی ، دا هم زیاته شی چی انتخابات د نظامی مفرزو او قطعاتو د ځای په ځای کیدو سره سره د ترس او ویری تر سیوری لاندی په داسی شرایطو کی پیل شول چی تیلی کمونیکیشن ، انترنیتی او دیجیټل خدمتونه قطع کړی شوی ول ، په ځوانانو ، ښځینه وو او د عمران خان په مشری د تحریک انصاف په ګوند غیرقانونی بندیزونه ول ، اړینه ده چی دا حقیقت څرګند شی چی په پاکستان کی هیڅکله هم شفاف او ازاد انتخابات نه دی شوی ، هیچا دا فکر نه کاوه چی د زندانی عمران خان په مشری به د تحریک انصاف ګوند وتوانیږی چی د تولنیزی میډیا په مټ به د سختو محدودیتونو په موجودیت کی د عمومی انتخاباتو پایلی په حیرانوونکی توګه بدلی او خلک به د خپلو رایو په وسیله ټولنیز تړون له سره ولیکی ، د پاکستان ولس خصوصاً ځوانانو او ښځینه وو د

نوازشریف د ګوند په ګټه د لندن پلان او د پوځی استبلشمنټ انجنیرینګ سکیم scheme له ناکامۍ سر مخامخ کړ ، مغرور او فاشیست پوځ او استخباراتی شبکو ته ئی کلکه څپیړه پر مخ ورکړه خو د انتخاباتو پایلی د انتخاباتی کمیسیون لخوا د خپلو انتصابی یا selected کاندیدانو په ګټه بدلی شوی ، څرګنده نه ده چی ولس به څه عکس العمل وښئی ، د نړی ډله ایزو رسنیو mass media لکه ایکانومیست ، CNN، نیویارک ټایمز ، بلومبرګ ، د هند ، برتانیا او نورو هیوادو اطلاعاتی شبکو راپورونه ورکړی چی انتخابات له تقلب او درغلیو ډک ول ، همدا رنګه د کامنویلت هیوادو نظارت کوونکی هیأت observer delegation چی غړو هیوادو ته د انتخاباتو د کنټرول لپاره ځی ، پاکستان ته هم راغلی وو د دغه هیواد له مختلفو کټګوریو لکه ګوندونو ، میډیا ، بیروکراتانو او مسؤلو کسانو سره مصاحبی وکړی وروسته ئی د یوه مطبوعاتی کنفرانس له لاری وویل چی ( انتخابات ازاد او شفاف نه ول ، د PTIیا پاکستان تحریک انصاف په غړو او خواخوږو انترنیټ بند او د دوی د انتخاباتی کمپاین د خوشی سمبول چی د کریکټ ډنډه یا BAT وو هغه ئی ځنی واخیست ، خلک ئی په ډول ډول بهانو ډارول تر څو انتخابی حوزو ته ولاړ نه شی ) یاده دی وی چی د کامنویلټ هیوادو هیأت د جمهوری نظام او دموکراسی د بقا او ودی لپاره په ټولو هیوادو کی پریکټیس کوی ،د نواز شریف په مقابل کی د تحریک انصاف ګوند ډاکتره یاسمین راشد د شپی کامیابه اعلان شوه ولی په سبا ئی هغه ناکامه او نواز شریف په جعلی رایو کامیابه کړ همداسی ریحانه ډار او په سلګونو نور ، د راولپنډۍ کمشنر لیاقت علی چټهه چی په انتخاباتی حوزو او صندوقونو ئی نظارت درلود مطبوعاتو او رسنیزو شبکو ته په یوه کنفرانس کی وویل چی انتخابات له درغلیو ډک او غیرشفاف ول ، د عمران خان د ګوند ۱۳ هغه کاندیدان چی ملی اسمبلۍ ته کامیاب ول ، د نواز شریف د ګوند کاندیدان ئی د ۷۰ , ۷۰ زرو په جعلی رایو کامیابه کړل ، د تحریک انصاف د ګوند عمومی سکرتر او د عمران خان لخوا د صدراعظمۍ مقام ته کاندید عمر ایوب خان په مطبوعاتی کنفرانس کی وویل چی ( د پاکستان په تاریخ کی د ۰۸ فبروری انتخاباتی درغلیو د مور یانی mother of riggingحیثیت درلود . ) عمر ایوب د فیلډ مارشال ! ایوب خان لمسی او د پاکستان د پخوانی خارجه وزیر او ملی اسامبلۍ رئیس ګـوهر ایوب خان زوی ده ، ( د ایوب خان په هکله هم هندی او ځنی نوری رسنۍ لیکی چی نوموړی ، Self Field Marshallیانی پخپله ئی ځان مارشال اعلان کړی ).

ولی په پاکستان کی ، ۱۹۷۳ متفقه اساسی قانون تر پښو لاندی کیږی او دموکراسی په خطر کی ده ؟: د پاکستان یو مترقی لیکوال مرحوم پروفیسور وارث میر په خپل کتاب ( فوج کی سیاست ) کی لیکلی د پاکستان د ۱۹۷۳ متفقه اساسی قانون د دغه هیواد د وسله وال پوځ لخوا څو واره نقض ، معطل او نه تطبیق کیږی او اوس د کوما په حالت کی له ستری محکمی د عدالت د احیا په تمه ده ، برتانوی استعمار چی په ۱۹۴۷ م کال د هند له نیمی وچی شاتګ ته مجبور شو اوږدمهاله ستراتیژی ئی دا وه چی په هند او پاکستان کی دموکراسی نهادینه شی ، په هند کی په دوو کالو کی اساسی قانون تصویب او دموکراسی پلوه بنسټونه مخ په وده روان ول ولی په پاکستان کی د صدراعظم لیاقت علی خان پرمهال مؤقت اساسی قانون د ۱۹۳۵ کال د Government of India Act یا ښکیلاکی قانون په اساس رامنځ ته شو ، او هم د نوی اساسی قانون لپاره ائین ساز کمیسیون وټاکل شو ، پوښتنه داده چی ولی په هند کی دموکراسی نهادینه او اساسی قانون وروسته له دوو کالو تدوین او عملی کیده مګر په پاکستان کی برعکس تر ۱۹۵۶کال پوری د استعماری قانون له مخی اجراأت کیدل او مستقیماً په لندن پوری تړلی ول ، عابدحسن منټو د پورتنی کتاب په مقدمه کی لیکی ( د پاکستان غورځنګ په منظم ډول د لاهور د ۱۹۴۰ قرارداد له مخی فعالیت پیل کړ خو دغه تحریک د استعمار ضد مبارزی په ځای د نیمی وچی د مسلمانانو د ځانګړی هیواد د جوړولو په محور راڅرخیده دلیل ئی دا وو چی د پاکستان د تحریک رهبری اکثریت جاګیرداره یا فیوډاله طبقه وه او له انګریزی

استعمار سره په پټو معاملو مصروف ول ، منتو زیاتوی ، محمد علی جناح په ۱۱ اگست ۱۹۴۷ د اساسی قانون د تدوین د کمیسیون په لومړنی جلسه کی د جمهوری او سیکولر پاکستان تصویر وړاندی کړ ، مگر د جناح دا وینا لومړی سانسور او بیا ورکه شوه ، داځکه چی د جاگیردارانو استازی د قانون جوړولو په کمیسیون کی برخه درلوده د هغوی لپاره جمهوری او دموکراسی پلوه روایت او ارزښتونه د منلو وړ نه ول ) همدا ډول په ۱۹۵۰ م کال د لیاقت علی خان صدراعظم لخوا د پاکستان د اساسی قانون ډرافت یا مسوده ترتیب شوه ، د وړاندی شوی مسودی له مخی ، ۱ <- د غربی او شرقی پاکستان پارلمان به ملی اسمبلی او د سـنا مجلس ولری چی د پاکستان د دواړو برخو څخه به مساوی نمایندگان پکی برخه اخلی ، ۲ <- اردو ژبه به په ټول پاکستان کی ملی او دولتی ژبه وی ، دا دواړه وړاندیزونه غیرعادلانه او رد شول ځکه د شرقی پاکستان نفوس له غربی پاکستان څخه زیات او هم اردو ژبه بنگالیانو ، پښتنو او بلوڅانو ته د منلو نه وه ، د اساسی قانون بله مسوده په ۱۹۵۳ کال د صدراعظم محمد علی بـوگـره لخوا وړاندی شوه چی د The Bogra Formula نومیده ، د اساسی قانون د دغی مسودی له مخی به د پاکستان د نفوس په اساس د پارلمان لپاره ځوکی ورکول کیږی چی د شرقی پاکستان ( اوسنی بنگله دیش ) سهمیـه ۱۶۵ سیټونه او د غربی پاکستان سـهمیه ۱۳۵ سیټـونه وړاندیز شوی وه ، چی دا فورموله هم رد او ونه منل شوه ، دغه کړکیچن وضعیت او جاگیرداری سیستم ته د پوځی استبلشمنټ لخوا هم لارښوونه کیدله او پاکستان عملاً د سیاسی بحران خواته ولاړ ، حاکمی طبقی د خپل اقتدار د ټینگولو لپاره په امریکا کی د پاکستان سفیر غلام محمد چی د فلج په مرض اخته او امریکائی ښځه ئی ترجمانه وه د گورنرجنرال په حیث وگمارو ، هغه په ۱۹۵۳ کی د پاکستان د اساسی قانون د تدوین کمیسون لغوه اعلان کړ چی د دغه اقدام په ضد تمیزالدین عالی محکمی ته مراجعه وکړه ، په محکمه کی د محکمی رئیس قاضی منیر ( چیف جستیس منیر ) کیس رد کړ او لندن ئی هم ملاتړ وکړ او دا ئی « د ضرورت نظریه یا » Doctrine of Necessity وبلله ، وروسته له دغه بحران په ۱۹۵۴ کی ئی ایالتی انتخابات وکړل چی په شرقی پاکستان کی د محمدعلی جناح مسلم لیگ گوند د رئیس په گډون اکثریت مسلم لیگیان ناکامه شول ، د ضرورت تیوری ته په کتو ، متقاعد بریدجنرال سکندر میرزا او د پوځ مشر جنرال ایوب خان هڅه وکړه چی فلج گورنرجنرال غلام محمد د مریضی په پلمه د تداوی لپاره خارج ته ولیږی ، غلام محمد نه منل خو په زور امر پری تحمیل شو او په نتجه کی په ۱۹۵۵ کی متقاعد بریدجنرال سکندر میرزا د پاکستان گورنرجنرال مقرر شو او حکومت عملاً د پوځی استبلشمنټ په اختیار کی ولوید ، سکندرمیرزا له پخوا د قدرت اخیستو په لټه کی وو ، او خپل دوست جنرال ایوب خان ئی هم په اقتدار کی ورگډ کړی وو ، نوی گورنرجنرال سکندر میرزا د حکومتی اقداماتو په ترڅ کی په دریو کلونو ( له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۸ پوری ) پنځه ( ۵ ) صدراعظمان په ترتیب سره محمدعلی بوگره بیا چودری محمدعلی چی یو بیروکرات وو په ۱۹۵۶ کی ، حسین شهید سهروردی چی د اقتدار خپلولو هڅه ئی کوله برطرف همدا رنگه ابراهیم اسمعیل چندریگر دوه میاشتی وروسته له صدراعظمی مقام څخه لیری کړی شو وروسته له هغه د پنجاب د ایالت څخه ملک فیروزخان نـون د صدراعظمی په وظیفه وگمارل شو او د هغه اقتدار دوام وکړ، سکندر میرزا حکومتی چاری په ټوکو او مسخره توگه پرمخ بیولی په هغه مهال د هند منتخب صدراعظم جواهر لال نـهرو هم په تمسخر ورته لیکلی ول چی ( میں اتنی دھوتیاں نہیں بدلتا جتنی تیزی سے پاکستان میں وزیراعظم بدلتے ہیں، I don’t change “Dhooti” as fast as Pakistan changes its prime ministers

ترجمه : زه دومره دهوتیاں یا د کالو لُنگ نه بدلوم لکه څومره په چټکی سره چی په پاکستان کی صدراعظمان بدلیږی )،

د یادولو ده چی په پاکستان کی د اساسی قانون په تدوین او تصویب کی ځینی پیچلتیاوی  او ستونزی لکه د غربی او شرقی پاکستان د نفوس په تناسب کی توپیر ، د دولت او مذهب ترمنځ د اړیکو معامله ، د اقلیتونو د حقوقو او په پارلمان کی د څوکیو په ویش د اختلاف مسئله د پام وړ پیچلی وضعیت را منځ ته کړی وو چی اکثران ئی د نوموړی هیواد جاگیرداره طبقه او پوځی استبلشمنټ وو ، او په غربی پاکستان پوری ئی تړاو درلود ، په پاکستان کی اساسی قانون د فبروری په میاشت ۱۹۵۶ م کال کی وروسته له ۹ نهو کالو رامنځ ته شو ، سکندر میرزا جمهور رئیس او جنرال محمد ایوب خان د وسله والو ځواکونو قوماندان یا commander in chief مقرر شول ، چی د ۱۹۵۶ اساسی قانون له مخی باید انتخابات وشی خو هم سکندر میرزا او هم ایوب خان د انتخاباتو له رایو په ویره کی ول او دوی د انتخاباتو په کولو خپل زوال لید ، ایوب خان تقاعد کیده او سکندر میرزا انتخابات بایلل له ځکه ئی په ۱۹۵۸ کی مخکی له انتخاباتو  اساسی قانون منحل او د ایوب خان په مشری ، مارشل لاء Martial Law  (نظامی حالت ) اعلان کړ ، ایوب خان هم پیچلی وضعیت ته په کتو خپل پخوانی دوست متقاعد بریدجنرال او جمهور رئیس سکندر میرزا لندن ته لاس تړلی ولیږو ، سکندر میرزا او د ده میرمنی ناهید میرزا ته په لندن کی د عمر تر پایه کور ، معاش او ټول امتیازات ورکول کیدل ، سکندر میرزا چی مړ شو مړی ئی د پاکستان په ځای تهران ته یووړ او هلته دفن کړی شو ، شجاع نواز په خپل کتاب Cross Swords کی لیکی چی په پاکستان کی د لومړی ځل لپاره مارشل لاء د پوځ په عوض یوه ملکی جمهور رئیس سکندر میرزا چی د شرقی پاکستان وو ولګوله .... ادامه لری .

*****

په بله مقاله کی د سکندر میرزا ښځه ناهید چی د ایران د دیپلومات میرمن وه ، د پاکستان امنیتی ، اقتصادی ژور بحران ، د قرض اخیستلو د لوړ والی کړکیچ او نورو اړوند موضوعاتو ته اشاره وشی ،

نیټه : ۲۰۲۴-۰۳-۱۵